**<u>مطبوعاتي اعلاميه</u>**

### د ښکېلاک مزدوران د مسلمانانو پر وړاندې دسيسه جوړوي، په داسي حال کي چي ښېګڼه د خلافت په تاسيس کي نغښتي ده!

### (ژباړه)



د ۲۰۱۸ م کال د ډيسمبر پر ۱۶مه د سوډان ولسمشر عمر بشير په يوه ناڅاپي سفر د سوريي پلازمېني دمشق ته ولاړ او د ياد هېواد له ولسمشر بشار اسد سره يې خبرې وکړې، چي د نوموړي د ليدو لپاره هوايي ډګر ته راغلی و. دغه له وړاندې اعلان شوې کتنه چي د «سوډان تريبيون» ډيپلوماتيکو سرچينو هم منلې وه. د دغه سفر ټولې چارې په روسي الوتکه کي شوې دي. په ۲۰۱۱ م کي د سوريي د انقلاب له پيله دا لومړی ځل دی چي يو عرب ولسمشر دغه هېواد ته ځي. د دغي حيرانوونکي قضيې په اړه موږ د حزب التحرير ولايه ـ سوډان لاندې حقيقتونه روښانه کوو:

لومړی: ټوله نړۍ د جنايت کوونکي بشار اسد پر وژنه او وحشت خبره ده چي د خپلو خلکو پر وړاندې يې تر سره کړې دي؛ هغه وژنې چي په ښوونځيو او بازارونو کي د چاودنو له امله شوې، د راکيټونو کارول او همدارنګه کمياوي وسلې چي د ماشومانو او نورو کسانو د مړينې لامل شوې. د هغو کسانو پر وړاندې جنايتونه او شکنجې له ياده نه باسو چي په بندخونو او په هغو ځاينونو کي چي د بې عدالتۍ له منځه وړلو او د عدالت اوامنيت رامنځته کېدو په غوښتنه، چي يوازې د اسلامي نظام په تاسيس سره شوني دي، راپاڅېدلي وو.

دويم: د عمر بشير دغه اقدام دا په ډاګه کوي چي د عربو ټول مشران پر خپلو جنايتونو سربېره، د اسد د جنايت کوونکي رژيم د انزوا ماتېدو لپاره د دغه تصميم له نيولو څخه شرمېدلي دي؛ خو تاريخ به دغه شرم او رسوا کېدل او هغه کسان چي دغه عمل يې تر سره کړی، د قيامت تر ورځې په ياد ساتي.

درېيم: دا ښکاره ده چي دغه کتنه د سوريي د رژيم انزوا ماتېدو لپاره د امريکا په لارښونه تر سره شوې ده. په دغه کتنه کي د امريکا د زاړه مزدور لپاره دا يوازې کتنه نه وه، بلکي داسي دندې پکي شاملې وې چي د نورو لپاره هم ټاکل شوې دي. بي بي سي د ۲۰۱۸ م د ډيسمبر پر ۱۶مه سوريي ته د بشير د تګ په اړه راپور خپور کړ: «چي د ترکيې د بهرنيو چارو وزير مولود چاووش اغلو د سوريي د ولسمشر بشار اسد د دغه کار لپاره په ډيموکراتيکو ټاکنو کي د بريا په صورت کي د ترکيې لبوالتيا په ډاګه کړه.» د قدس عربيه ورځپاڼې د ۲۰۱۸ م د ډيسمبر پر ۱۹مه د برېتانيا له خپلواکي ورځپاڼې څخه په

نقل سره راپور ورکړ: «د حيرانتيا وړ خبره ده چې د امريکا ولسمشر ټرامپ يوازينی کس دی چې د بشير ليدنه يې ټاکلې ده؛ خو د اسد د باور لپاره د ټرامپ هڅې به يوه بايللې جګړه وي.»

په وروستيو کې وايو: امت په يو ناوړه حالت کې دی، ځکه داسې دولت نشته چې د کمزورو او مظلومو مسلمانانو دفاع وکړي. که مسلمانانو يو خليفه درلودی، څنګه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د قينقاع يهوديان د يو مسلمان د وژلو له امله له ښاره وايستل او ياهم معتصم چې د يوې مسلمانې مېرمنې د ازادۍ لپاره يې ټوله اردو ورولېږله؛ په دې توګه د مسلمانانو خليفه يوازنی کس دی چې د کمزورو ملاتړ کوي؛ نه داسې مشران چې خپل دين يې پلورلی او خپلې خاورې يې ښکېلاکګرو کفارو ته تسليم کړې دي. پر دغو ټولو سربېره، خليفه د الله سبحانه وتعالی قانون پلی کوي او د ښکېلاکګرو لاسونه به پرې کړي. نو پر مسلمانانو لازمه ده څو د بدبختۍ او ذلت د له منځه وړلو لپاره د نبوت پر تګلاره د اسلامي رهبرۍ بيا راژوندي کېدو لپاره له حزب تحرير سره يوځای فعالت وکړي، چې د الله سبحانه وتعالی ژمنه او د رسول الله صلی الله عليه وسلم زيری دی. رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

**«ثُمَّ تَكُونُ خِلَافَةً عَلَى مِنْهَاجِ النُّبُوَّةِ»**

***ژباړه:*** *او وروسته به د نبوت پر تګلاره خلافت تاسيس شي.*

**ابراهيم عثمان (ابوخليل)**
**د حزب التحرير ـ ولايه سوډان رسمي وياند**
**د صدور ګڼه: ۱۴۴۰/۱۴ HTS**
**۱۴۴۰، د ربيع الثاني ۱۲مه**
**۲۰۱۸ م د ډيسمبر ۱۹مه**
**ژباړه: بهير «ويار»**